نېکۍ ولیکل شي، او په هر اقامت به ورله دېرش نېکۍ ولیکل شي .
پوښتنه دا پیدا کیږي چې ایا شیعګان په دې اذان اقرار کوي ؟
ایا کله یې هم په خپلو مسجدونو کې دغه نبوي اذان کړی دی ؟
د اذان دغه کلمات چې شیعګان یې په خپلو مسجدونو کې تکراروي ورته چا ښوولي دي ؟
ایا دغه اذان علي رضي الله عنه خپله چرته کړی دی ؟ یا یې اورېدلی دی ؟
اذان هغه بابرکت کلمات دي چې صحابه کرامو رضوان الله علیهم أجمعین به په کلیو تر هغه نظامي بریدونه نه کول چې به یې اذان واورېد، که به یې وا نه اورېد بیا به یې کلی غزا کوو .
ایا د شیعګانو اذان له کوم صحابي څخه ثبوت لري ؟
د هر لمونځ وخت د داخلېدو په مهال د اسلامي ارشاداتو له مخې مسلمانان د اذان لپاره دا کلمات د خلکو ترغوږونو رسوي:
الله أكبر الله أكبر الله أكبر الله أكبر، أشهد أن لا إلٰه إلا الله أشهد أن لا إلٰه إلا الله، أشهد أنَّ محمداً رسول الله أشهد أنَّ محمداً رسول الله، حي على الصلاة حي على الصلاة، حي على الفلاح حي على الفلاح، الله أكبر الله أكبر، لا إلٰه إلا الله.
خو ولې شیعګان وایي:
الله أكبر الله أكبر الله أكبر الله أكبر، أشهد أن لا إلٰه إلا الله أشهد أن لا إلٰه إلا الله، أشهد أنَّ محمداً رسول الله أشهد أنَّ محمداً رسول الله، آشهد أن عليا ولي،

فَمِنْ أَيْنَ حَلَلْتِ لِلأَبْعَـدِيْنَ ** وَ صِرْتِ مُحْرِمَةً لِلأَبِ
أَلَيْسَ الغَرَاسُ لِمَنْ أَسَّسَـه ** وَ سَقَـاهُ فِيْ زَمَنِ المُجْدِبِ
وَمَا الخَمْـرُ اِلاَّ كَمَـاءِ السَّمَاءِ ** فَقَد قُدِّسَتْ مِنْ مَذْهَبِيْ

○ اى ښځې ډول ډېلى راواخله او بلبله دې وغړوه (سندرې ووايه ) او وګډېږه.

○ د بنوهاشمو نبي ولاړ تېر شو او اوس د بني يعرب نبي او پيغمبرراغى .

○ د مورګانو سره يې د لورګانو نکاحونه هم حلال کړل او له خپل ځانګړي احسان له مخې يې د هلک سره لواطت هم روا کړ.

○ د ټولو هغو پيغمبرانو لپاره چې راغلي دي خپل شريعت او دين وي او دا زما شريعت او منهج دى.

○ له مونږ څخه فرض شوي لمونځونه هم ساقط العمل وګرځيدل او د روژې ستړيا هم راڅخه ساقطه شوه .

○ کله خلکو لمونځونه کول ته لمونځ ته مه ودرېږه او چې کله يې روژې نيولې نو ته خپل خوراک اوڅښاک کوه .

○ د پردو او خپلو بې واده هلکانو ( لونډانو ) نه خپل ځان مه منعه کوه .

○ له کوم ځاى نه ته د پردو لپاره حلاله شوې يې او د خپل پلار لپاره حرامه بلل کيږې ؟

○ ايا په نيالګى هغه څوک ډېر حقدار نه دى چې د لومړي ځل لپاره يې ناله کړې وي او په وچکالى کې يې ورته اوبه هم ورکړې وي ؟

عبدالله بن عباس او عبيدالله بن عباس مقصد دي [1].

له فاطمې رضي الله عنها پرته د نبي صلى الله عليه وسلم نورو لورګانو ته هم د شيعګانو سيني له حسده خوټکيږي، ځينو خو يې بيخي له دې نه انکار کړی دی چې دوی د نبي صلى الله عليه وسلم لورګانې وي [2].

☜ : ايا دا د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره محبت او مينه ده ؟!!!

[١٤١] د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت په دور کې د مرتدينو ضد جنګ کې علي رضي الله عنه هم برخوال و او يوه وينځه يې هم په غنيمت کې اخستې وه چې ( محمد بن الحنفية ) يې زږولی و، دا په دې دلالت کوي چې علي رضي الله عنه يې په خلافت قائل و، ورنه په جنګونو کې به يې ورسره ونډه نه اخسته .

[١٤٢] په بيلابيلو مسلو کې له جعفر الصادق څخه ردو بدلې فتواګانې نقل دي، په هرې فقهي مسئله کې له هغه دوه يا زيات قولونه دي، د نمونې په توګه : په کوم کوهي کې چې نجاست او پليتې وغورځيږي :

➢ : يو ځل وايي : کوهی د بحر په څېر دی هيڅ ګنده څه يې نه شي پليتولی .

➢ : بيا وايي : له کوهي به تولې اوبه راويستل کيږي .

➢ : بيا وايي : له کوهي څخه به شپږ يا اووه بوکې اوبه راويستل کيږي .

---

[1] رجال الكشي : ( ٥٣ ) .

[2] كشف الغطا ( ٥ ) د جعفر النجفي ليکنه . دائرة المعارف الشيعية : ( ١ / ٢٧ ) د محسن الأمين ليکنه .

لوړه درجه کې دی[1].

☜: مونږ له شيعګانو څخه پوښتو چې ولې د دې حکم وړ هغه خلک نه بولئ چې رسول الله ﷺ يې لېدلی وي؟ سره له دې چې ستاسو د امام نه په عظمت او درجه کې هم بالا دی؟!!

١٦٣ په دې کې هم شيعګان تکر لري چې د هغه چا روايت نه قبلوي چې د دوی په امامانو عقيده نه لري، له دې کبله يې د صحابه کرامو روايتونه ترديد کړي دي، خو ولې نفس قاعده په هغه چا نه مجرا کوی چې خپلو امامانو يې شيعي اسلافو څخه انکار کړی دی !!د شيعګانو عالم حر العاملي ډېر تاکيد کړی دی چې اماميه ډلې د فطحيه[2] واقفيه[3] او د ناووسيه[4] ډلو په روايتونو عمل درامد درلود.

دا درېواړه ډلې د اثني عشريه شيعګانو ځېنې امامان هم نه مني، خو بيا هم ځينې روايان يې ثقه بولي[5] خو ولې شيعګان دغه رويه د نبي ﷺ له ملګرو سره نه

---

(1) تنقيح المقال: (١ / ٢١١).

(2) دوی د عبدالله «أفطح» بن جعفر الصادق پلويان دي.

(3) دوی هغه خلک دي چې د موسی بن جعفر په امامت کې يې توقف وکړ، نه يې ترې انکار وکړ او نه يې امام وبولو.

(4) دوی د ناووس يا د ابن الناووس پيروکار دي او عقيده لري چې جعفر بن محمد نه دی مړ شوی او مهدي جعفر بن محمد دی نور څوک نه دي.

(5) د بېلګې په توګه کولای شئ چې( رجال الکشي ـ: ٥٦٣، ٥٦٥، ٥٧٠، ٦١٢، ٦١٦، ٥٩٧، ٦١٥ )

